# فيضانِ خديجةُ الكبرىٰ رَضِیَ اللهُ عنها

**22-March-2024**



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

**(for Islamic Brothers)**

پۀ 22 مارچ کال 2024ء د پاکستان پۀ هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# فیضانِ خدیجۃُ الکبریٰ

پۀ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... د حضرت خدیجۃُ الکبریٰ د فقاهت شان
- ...څلور افضلې جنّتي زنانه
- ... د خدیجۃُ الکبریٰ دوه اعلیٰ صفتونه
- ... د بے لیدلو مَنلو فضیلتونه

پیشکش
اَلْمَدِیْنَۃُالْعِلْمِیَۃ
Islamic Research Center
(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

*For Feedback*:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْکَ یَا رَسُوْلَ اللّٰہ وَعَلٰی اٰلِکَ وَاَصْحٰبِکَ یَا حَبِیْبَ اللّٰہ
اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْکَ یَا نَبِیَّ اللّٰہ وَعَلٰی اٰلِکَ وَاَصْحٰبِکَ یَا نُوْرَ اللّٰہ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَاف (**ترجمه**: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د **الله** پاک حبيب، د زړونو طبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: کوم بنده چې د **محبت** او شوق سره درې ځله د ورځې او درې ځله د شپې په ما باندې درودِ پاک ولولي، په **الله** پاک باندې حق دے چې د هغۀ د هغه ورځې او هغه شپې ګناهونه معاف کړي. (1)

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** که مونږه لږه توجه وکړو نو ځومره په اسانۍ سره د ګناهونو بخښلو ذريعه کيدے شي، مثلاً د سحر نمونځ د جمعې سره ادا کړُو، سر ښکته کړو، سترګې پټې کړو او د شين شين ګنبد تصور په ذهن کښې راولو او درې ځله درودِ پاک ولولو، هم دغه شان د شپې اګر که په بستره باندې وي د قبلې په لور مخ کړو او کښينو او سر ښکته کړو، سترګې پټې کړو او د ښکلي ښکلي ګنبدِ خضراء تصور راولو او درې ځله دُرُودِ پاک ولولو نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيْم! د هغه ورځې او د هغه شپې ګناهونه به مو معاف شي، ياد ساتئ! کبيره ګناهونه په رښتوني توبې سره معاف کيږي، هم داسې که قضا نمـونځونه، قضا روژې، د بندګانو مالي، جسماني حقونه د چا په ذِمه وي نو د هغې ادائيګي هم لازمي ده.

[1]... معجم کبير، جلد:8، صفحه:69، حديث:15316۔

وہ تو نہایت سستا سودا، بیچ رہے ہیں جنّت کا | ہم مفلس کیا مول چکائیں، اپنا ہاتھ ہی خالی ہے [1]

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار په نيتونو دے. [2]

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! ښهٔ نيت بنده جنت ته بوځي، د بيان اوريدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِيَّتونه وکړئ: مَثَلاً ❁ د اللّٰه پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❁ عِلمِ دِين به زده کووم ❁ پهٔ اَدب به کښينم ❁ نصيحت به حاصلووم ❁ د اَحمَدِ مجتبیٰ، مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ پاک نوم اوريدو به درودِ پاک لولم.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د شور او ځوږ نه د پاک مَحَل زيرے

د حديثِ پاک د ټولو نه پهٔ معتبر او ډير مشهور او معروف کتاب بخاري شريف کښې يو روايت دے، چې پکښې يوه ايمان تازه کوونکې واقعه بيان شوې ده، واقعه د هٔغه ورځو ده چې کله به زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم غارِ حِرا ته تشريف وړلو. [3] يوه ورځ داسې وشول چې خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ غارِ حِرا کښې تشريف فرما وو، حضرت جبريلِ امين عَلَیْہِ السَّلَام هم پهٔ بارګاه رِسالت کښې حاضر وو، پهٔ دې کښې د مسلمانانو خوږه مور جانه، د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بي بي محترمه حضرت خديجةُ الکبریٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا د لرې نه راروانه وليدلے شوه. مخکښې

---

1 ...حدائق بخشش، صفحہ:186۔
2 ...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔
3 ...مرآۃ المناجیح، ازواجِ پاک کے فضائل، پہلی فصل، جلد:8، صفحہ:495۔

**څۀ وشول؟ د بخاري شریف حدیثِ پاک واورئ!** صحابئ رسول حضرت ابو هریره رضی اللہ عنہ فرمائي: حضرت جبریلِ امین علیہ السّلام چې خدیجۃُ الکبریٰ رضی اللہ عنہا ولیدله نو عرض یـې وکړو: یا رَسُولَ الله صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم! دا خدیجه راروانه ده، د هغې سره لوښے دے، چې پـکښې خوراک دے، چې کله هغۀ ستاسو خوا له راشي نو هغې ته د **الله** پاک سلام هم ووایئ او زما سلام هم ورته ووایئ! او هغې ته دا زیرے ورکړئ چې په جنّت کښې د هغې د پاره خول دار (یعنې د دننه نه خالي) د ملغلرو جوړ کړے شوے کور دے، **چې پـکښې نۀ څۀ شور شته، نۀ څۀ تـکلیف...!!**

چې حضرت خدیجۃُ الکبریٰ رضی اللہ عنہا رانزدې شوه نو خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم هغې ته د **الله** پاک او د حضرت جبریلِ امین علیہ السّلام سلام ورسولو نو د هغې په جواب کښې حضرت خدیجۃُ الکبریٰ رضی اللہ عنہا ووئیل: اِنَّ اللّٰهَ هُوَ السَّلَامُ وَعَلٰى جِبْرِيْلَ السَّلَامُ وَعَلَيْكَ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ یعنې **الله** پاک سَلَام دے او په حضرت جبریل علیہ السّلام او په تاسو صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم باندې دې سلامتي او د **الله** پاک رحمتونه او برکتونه وي. (1)

مادرِ اوّلین اہلِ ایمان کی | ہے یہ اس کی بزرگی و پاکیزگی
برگزیدہ ہے ربِّ مُحَمَّد کی بھی | عرش سے جس پہ تسلیم نازِل ہوئی

اُس سرائے سَلامت پہ لاکھوں سلام

اُس کا جبریل مَلحُوظ رکھے اَدب | جنّتی گوہَریں گھر اُسے بخشے ربّ
کوئی تکلیف اس میں نہ شور و شَغَب | مَنْزِلٌ مِّنْ قَصَبٍ لَا نَصَبْ لَا صَخَبْ

ایسے کوشک کی زِینت پہ لاکھوں سلام (2)

---

1... سنن الکبریٰ للنسائی، کتاب المناقب، مناقب خدیجہ...الخ، جلد:7، صفحہ:390، حدیث:8301۔
2... برہانِ رحمت، صفحہ:49۔

وضاحت: حضرت خديجةُ الكبرىٰ رضی اللہ عنہا د ايمان والؤ وروميٰ خوږهٔ مور جانه ده، د هغې د بزرګۍ، پاکۍ او د اوچتې مرتبې دا حالت دے چې هغهٔ د رَبِّ مصطفٰے، اللّٰهُ رَبُّ العالمين پهٔ بارګاه کښې اوچته مرتبه لري، د هغوئي دا شان دے چې **الله** پاک د هغې د پاره د سلام تحفه راوليږله، جبريلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام د هغې د ادابو خيال ساتي، **الله** پاک هغې ته د ياقوتو د ملغلرو نه جوړ کړے شوے جنّتي محل عطا کړو، داسې محل چرته چې نهٔ څهٔ شور شته، نهٔ څهٔ تڪليف شته، پهٔ داسې سلامتیٔ والا اوچتې مرتبې والا د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ کور وداني حضرت خديجةُ الكبرىٰ رضی اللہ عنہا باندې او د هغې د اوچت محل پهٔ ښکلا څلا باندې دې پهٔ لکونو سلامونه وي.

صَــلُّــوْا عَــلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د حضرت خديجةُ الكبرىٰ رضی اللہ عنہا د فقاهت شان

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! پهٔ دې واقعه کښې زمونږ د پاره د زده کولو ډيرې خبرې دي. (1): اَوَّل خو د دې واقعې پهٔ رڼا کښې د مسلمانانو د خوږې مور جانې حضرت خديجةُ الكبرىٰ رضی اللہ عنہا عقل، د هغوئي پوهې او فراست او د فقاهت شان ته وګورئ! حضرت جبريلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام د هغوئي د پاره د سلام تحفه راوړله او پهٔ بارګاهِ رسالت کښې يـې عرض وکړو: يا رَسُوْلَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د حضرت خديجه رضی اللہ عنہا د پاره **الله** پاک هم سلام راليږلے دے، هغهٔ هم هغې ته ورسوئ! او زما د طرف نه هم هغې ته سلام ووايئ!

سلام د دوو هستيانو د اړخ نه وو، مونږ ته چې څوک سلام راوليږي، که د يو بنده د اړخ نه سلام راشي، د هغې جواب هُم هغسې ورکوو او که د زرګونو خلقو د اړخ نه سلام راشي نو د هغې جواب هُم هغسې ورکوو خو د حضرت خديجةُ الكبرىٰ رضی اللہ عنہا د عقلمندیٔ نه قربان شم! د اِسلام ابتدائي دور دے، ديني احکام لا دومره عام شوي نه

وو، عِلمِ دِين لا عام شوے نه وو، په هغه دور کښې د حضرت خديجةُ الكبرىٰ رضی اللہ عنہا د پاره د دوو هستيانو د اړخ نه د سلام تحفه راغله، حضرت خديجةُ الكبرىٰ رضی اللہ عنہا د دواړو سلامونو جواب ورکړو خو الفاظ يې د دواړو د پاره مختلف استعمال کړل، د **الله** پاک د طرف نه چې د سلام کومه تحفه راغله، د هغې په جواب کښې هغې ووئيل: اِنَّ اللهَ هُوَ السَّلَامُ.

الله! الله! هغې د **الله** پاک د طرف نه د سلام د تحفې په راتللو دا اونه وئيل چې عَلَيْهِ السَّلَام (يعني [داسې يې اُونه وئيل چې] په **الله** پاک باندې دې سلام وي) بلکې اوئې وئيل: اِنَّ اللهَ هُوَ السَّلَامُ. ولې...؟ ځکه چې هغه د خپل بے مثاله پوهې او فراست، په خپله عقلمندۍ، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په فيضانِ صحبت سره په دې خبره پوهيدله چې د **الله** پاک د سلام جواب داسې نه ورکولے کيږي، لکه څنګه چې مخلوق ته ورکولے شي، **الله** پاک خو د هُغې اوچتې مرتبې والا ذات دے چې په ټولو جهانونو باندې سلامتي هم هغهٔ فرمائي، د هغهٔ په پاکو نومونو کښې يو نوم هم اَلسَّلَام يعني **سلامتيا نازل فرمائيلو والا** دے. لهٰذا **الله** پاک د سلام تحفه راوليږله نو په جواب کښې يې دا اونه وئيل چې په **الله** باندې دې هم سلامتي وي بلکې اوئې وئيل: اِنَّ اللهَ هُوَ السَّلَامُ يعني **الله سلامتي نازل فرمائيلو والا** دے.

سُبْحٰنَ الله! دا د دې خبرې دليل دے چې حضرت خديجةُ الكبرىٰ رضی اللہ عنہا د اِسلام په ابتدائي دور کښې هم د مَعرفت (يعني د **الله** پاک د پيژندګلو) اوچتې مرتبې ته رسيدلې وه.

مادرِ اوّلينِ اہلِ ایمان کی ہے یہ اس کی بزرگی و پاکیزگی
برگزیدہ ہے ربِّ محمّد کی بھی عرش سے جس پہ تسلیم نازل ہوئی
اُس سرائے سلامت پہ لاکھوں سلام

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## (2): که چرې څوک د چا سلام راوړي نو...؟

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** پهٔ دې واقعه کښې د زدکړې يوې بَلې خبرې ته وګورئ! د حضرت خديجةُ الکبرىٰ رضی اللہ عنہا د پاره حضرت جبريلِ امين علیہ السلام خپل سلام وليږلو، د دې پهٔ جواب کښې حضرت خديجةُ الکبرىٰ رضی اللہ عنہا ووئيل: وَعَلٰی جِبْرِیْلَ السَّلَامُ وَعَلَیْكَ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ يعنې او پهٔ حضرت جبريل علیہ السلام او پهٔ تاسو صلی اللہ علیہ والہ وسلم باندې دې سلامتي او **د الله پاک رحمتونه او برکتونه وي.** (1) دلته دوه خبرې د زدکړې د پاره دي: **(1):** چې کله د چا د طرف نه سلام راوليږلے شي، يعنې سلام کوونکے څوک بَل څوک وي او سلام رَسَوَلو والا څوک بَل څوک وي نو پهٔ جواب کښې به صرف سلام ليږونکي ته سلام نه وئيلے کيږي بلکې چا چې سلام راليږلے دے، هغهٔ ته به هم سلام وئيلے کيږي. **(1):** او دويمه خبره دا معلومه شوه چې کله هم سلام وکړے شي يا د سلام جواب ورکول وي نو صرف پهٔ سلام باندې دې بَس نه کړے شي بلکې ورسره دې وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ هم ووئيلے شي.

**اے د خوږ نبي صلی اللہ علیہ والہ وسلم عاشقانو!** دا د اِسلام د وړومبي دور واقعه ده، هُغه وخت اِسلامي اَحکام او عِلمِ دِين دومره زيات عام شوي نه وو، اوس چې مونږ لږ غور وکړو، پهٔ عِلمِ دِين باندې پهٔ زرګونو بلکې پهٔ لکونو کتابونه ليکلے شوي دي، دا وخت خاص طور پهٔ اِسلامي ملکونو کښې به خو داسې هيڅوک نه وي چې عِلمِ دِين ته به هغه رسيدے نشي. که وغواړي نو هر ګس پهٔ اسانئ سره عِلمِ دِين زده کولے شي، د دې باوجود چې مونږ لږ غور وکړو، ايا مونږ له د سلام صحيح جواب ورکول راځي؟

د طلاق، خُلع يا نمونځ او زکوٰة د سختو مسئلو خبره نه کيږي، د دِين يوه بنيادي خبره

---

1... سنن الكبرى للنسائی، كتاب المناقب، مناقب خديجة... الخ، جلد:7، صفحه:390، حديث:8301۔

ده، مونږه ډیر د وړوکوالي نه سلام کوو او جواب ورکوو، پۀ یوه اِسلامي معاشره کښې خو دا د معمول خبره ده، د دوو مسلمانانو د ملاقات پۀ وخت وئیلے کیدونکي جملې هم سلام وي. خو افسوس! نن ډیر داسې مسلمانان دي چې ورله پۀ صحیح طریقه سلام کول او د هغې جواب ورکول هم نه ورځي. څوک سَامَلَیْکُم وائي، څوک سَلَامَلَیْکُم وائي، څوک څۀ وائي او څوک څۀ...!!

او که څوک بَل څوک د چا پۀ ذریعه سلام راولیږي نو د هغې جواب پۀ کومو الفاظو ورکول دي، د دې خو ډیرو خلقو ته پته نشته. که څوک راشي او ووائي چې فلانکي پۀ تا سلام وئیلے دے نو د هغې پۀ جواب کښې عموماً هم وَعَلَیۡکُمُ السَّلَام وئیلے شي. پۀ **بهارِ شریعت** کښې دي: (چې کله درته څوک د چا سلام راورسوي نو د هغې) جواب داسې ورکوئ چې مخکښې هغۀ رارسوونکي ته د هغې نه پس هغۀ ته چا چې سلام رالیږلے دے یعنې دا دې ووائي: وَعَلَیۡكَ وَعَلَیۡهِ السَّلَام. (1)

دا هم یاد ساتئ چې د سلام پۀ جواب کښې به دا الفاظ هغه وخت وئیلے شي چې کله سلام رالیږلو والا او رارسولو والا دواړه نارینه وي که دواړه زنانه وي نو داسې دې ووئیلے شي: وَعَلَیۡكِ وَعَلَیۡهَا السَّلَام که رالیږلو والا نارینه او رارسولو والا زنانه وي نو داسې دې ووئیلے شي: وَعَلَیۡكِ وَعَلَیۡهِ السَّلَام او که چرې د دې اُلټا وي یعنې رالیږلو والا زنانه وي او رارسولو والا نارینه وي نو داسې دې ووئیلے شي: وَعَلَیۡكَ وَعَلَیۡهَا السَّلَام.

صرف یو بیان کښې اوریدلو باندې په دې نۀ شو پوهیدلے او نۀ یې ساتلے شو، ډیره مشکله خبره ده، دا خبرې به باقاعده مونږ ته زده کول وي، هله به راته بیا دا یادې هُم وي، ځکه به مونږ ته د دې خبرو زده کولو د پاره وخت ویستل وي، ظاهره ده د وخت

[1]... بہارِ شریعت، حصہ:16، جلد:3، صفحہ:463۔

ورکولو نه بغير خو هيڅ هم نۀ حاصليږي، د څۀ موندلو د پاره به قرباني ورکول وي. لهٰذا همت وکړئ! د دِين د ښکلو ښکلو خبرو زده کولو د پاره ❁ د فرض علومو زده کولو د پاره ❁ د سنّتو او د ژوند د ادابو زده کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي ديني ماحول ته راشئ! ❁ د عاشقانِ رسول سره پۀ مَدَني قافلو کښې سفر کوئ! ❁ اَلْحَمْدُلِلّٰه! د رَمَضَانُ الْمُبَارَك مياشت هم خپل برکتونه خپروي، د اعتکاف سپرلي دي، د دعوتِ اِسلامي زيرِ انتظام کيدونکي اجتماعي اعتکاف کښې دا سُنَّت زده کيدے شي ❁ اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د هر خالي پۀ ورځ براهِ راست (***Live***) د ماسخوتن د نمونځ نه پس مَدَني مذاکره فرمائي، [او اوس پۀ رمضانُ المُبارک کښې خو اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د مازديګر د نمانځۀ نه پس او د تراويح نه پس روزانه دوه ځله مدني مُذاکره کيږي] پۀ مَدَني مذاکره کښې پۀ پابندئ سره شرکت کوئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د عِلمِ دِين بے بها خزانه به پۀ لاس درشي او ❁ د عِلمِ دِين زده کولو د ټولو بهترين انداز: جامعـةُ الــمدينه کښې داخله واخلئ! د شوال نه د درَسِ نظامي (يعني د عالِم کورس) نوي کلاسونه شروع کيږي، پۀ جامعـةُ الــمدينه کښې داخلې رواني دي، که مونږ درسِ نظامي (يعنې عالِم کورس) وکړو، بيا خو څومره ښکلے شان دے، د دې پۀ برکت سره به مونږه پۀ قرآنِ کريم باندې پوهه شو، عِلمِ تفسير، علمِ حديثِ، علمِ فقه، علمِ تصوف او ډير زيات ديني علوم او د علمِ دِين د عربئ لوئي لوئي کتابونه لوستل به مونږ زده کړو. **اللّٰه** پاک دې مونږ ته د علمِ دِين زده کولو او پۀ دې باندې د عمل کولو جذبه راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

## صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د حضرت خديجةُ الكبرىٰ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا مختصر تعارف

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! حضرت خديجةُ الكبرىٰ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا د مسلمانانو خوږه

مور جانه یعني زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ورومبی کور وداني محترمه ده.

دا خبره هم هر یو مسلمان له یاد ساتل پکار ده چې زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ټولې یولس پاکې بیبیانې وې، دغه پاکو بیبیانو ته اُمَّهَاتُ المُؤمِنِین یعني د مسلمانانو مئیندې وئیلے شي. **اللّٰه** پاک پهٔ قرآنِ کریم کښې فرمائیلي دي:

اَلنَّبِیُّ اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِیْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ وَ اَزْوَاجُهٗۤ اُمَّهٰتُهُمْ ؕ (پارہ:21،سورۂ احزاب:6)

[مفہوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: دا نبي د مسلمانانو د ځانونو نه زیات د هغوئي مالک دے او د هغه بیبیانې د هغوئي میندې [موریانې] دي.

معلومه شوه چې زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زمونږه د ځانونو زمونږ نه زیات مالِک دے او د هغوئي پاکې بیبیانې زمونږه د ټولو ایمان والؤ مئیندې دي.

اہلِ اِسلام کی مادرانِ شفیق | بانُوانِ طہارت پہ لاکھوں سلام[1]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د **اللّٰه** پاک د آخري نبي، مکي مَدَني صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عمر مبارک 25 کاله وو چې کله هغوئي حضرت خدیجۃُ الکبریٰ رَضِیَ اللّٰه عَنْهَا پهٔ خپله نکاح کښې قبوله کړه. د هغې کُنیت: اُمِّ قَاسِم دے. د هغې د ټولو نه مشهور لقب: **الکبریٰ** دے. هغهٔ ډیره پاکبازه، ډیره د همت والا، د اوچتې حوصلې والا، عزت داره، اعلیٰ نسب لرونکې او ډیره عقلمنده زنانه وه، د هغې د اعلیٰ صفتونو او کمالونو څومره ښکلے شان دے...!! چې د جاهلیت پهٔ زمانه کښې به هم هغهٔ د طَاهِرَه (یعني پاکه زنانه) او

1...حدائق بخشش، صفحہ:310۔

www.dawateislami.net

**سيدةُ قريش** (يعني د قريش سرداره زنانه) پۀ لقب سره ياديدله. د حضرت خديجةُ الكبریٰ رضی اللہ عنہا يو ښکلے لقب: **صِدِّيقه** هم دے. **پۀ حديث شريف کښې دي،** د **الله** پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم ووفرمائيل: **هٰذِهٖ صِدِّيْقَةُ اُمَّتِيْ يعني دا زما د اُمّت صِدِّيقه ده.** (1)

زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم ټول 7 بچي دي: څلور شهزادګۍ (حضرت زينب، حضرت رُقيَّه، حضرت اُمّ کلثوم او خاتونِ جنّت حضرت فاطمةُ الزهرا رضی اللہ عنہن) او درې شهزادګان (حضرت قاسِم، حضرت عبد الله او حضرت ابراهيم رضی اللہ عنہم). پۀ هغوئي کښې حضرت ابراهيم رضی اللہ عنہ د ماريه قِبطيه رضی اللہ عنہا شهزاده دے، باقي ټول اولاد يې د حضرت خديجةُ الکبریٰ رضی اللہ عنہا نه وو يعني حضرت خديجةُ الکبریٰ رضی اللہ عنہا د امام حسن او حسين رضی اللہ عنہما بلکې تر قيامته پورې د راتلونکو ټولو سيد زادګانو نيا بي بي ده.

د نبوت پۀ لسم کال، د رَمَضَانُ الْمُبَارَك پۀ لسم تاريخ حضرت خديجةُ الکبریٰ رضی اللہ عنہا وفات شوه د وفات پۀ وخت د هغې عمر مبارک 65 کاله وو. (2) د هغې مزار مبارک د مکے مکرمې پۀ مشهوره هديره **جنّت المُعلیٰ** کښې دے.

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## څلور افضلې جنّتي زنانه

حضرت عبد الله بن عبّاس رضی اللہ عنہما فرمائي: يو ځل رسولِ کائنات، شهنشاهِ موجودات صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم پۀ زمکه باندې څلور کرښې راښکلې او اوئې فرمائيل: تاسو ته پته ده دا څۀ دي؟ صحابۀ کرامو رضی اللہ عنہم عرض وکړو: **اَللّٰهُ وَ رَسُوْلُه اَعْلَمُ** يعني **الله**

---

1 ... تاریخ مدینہ دمشق، تاریخ دمشق، حرف المیم، 9427- مریم بنت عمران، جلد: 70، صفحہ: 118۔
2 ... امتاع الاسماع، فصل فی ذکر ازواج رسول، ام المؤمنین خدیجۃ بنت خویلد، جلد: 6، صفحہ: 28۔

پاک او د هغۀ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته بهتره معلومه ده. اوئې فرمائيل: پۀ جنّتي زنانۀ کښې د ټولو نه زياتې فضيلت والا دا زنانه دي: (1): خديجه بنتِ خُوَيْلِد يعنې حضرت خديجةُ الکبرىٰ رضي الله عنها (2): فاطِمه بنتِ مُحَمَّد (3): د فرعون کور وداني آسيه بنتِ مُزَاحِم (4): او د حضرت عيسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام مور بي بي حضرت مَرْيَم بنتِ عِمْرَان (رضي الله عنهن).[1]

## پۀ دُنيا کښې جنّتي ميوې خوړل

اُمُّ الْمُؤْمِنِين حضرت خديجةُ الکبرىٰ رضي الله عنها ته پۀ دُنيا کښې د اوسيدو باوجود د جنّتي ميوې نه د مزې اخستو شرف هم حاصل دے اُمُّ الْمُؤْمِنِين حضرت عائشه صِدّيقه رضي الله عنها فرمائي چې د مدينے سردار، د زړونو قرار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ حضرت خديجه رضي الله عنها جنّتي انګور خوړلي وو.[2]

مالکِ کونین ہیں گو پاس کچھ رکھتے نہیں | دو جہاں کی نعمتیں ہیں ان کے خالی ہاتھ میں

## د نمونځ ادا کول

اُمُّ الْمُؤْمِنِين حضرت خديجه رضي الله عنها ته د اِسلام دُنيا ته د جلوه ګر کيدو پۀ وړومبۍ ورځ د نمونځ کولو شرف حاصل دے، اعلىٰ حضرت، امامِ اهلسنَّت مولانا شاه امام احمد رضا خان رحمةُ الله عليه فرمائي: پۀ حُضُور سيّدِ عالَم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې چې پۀ وړومبي ځل کوم وخت وحي نازله شوه او نبوتِ کريمه ظاهِر شو هغۀ وخت حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نمونځ ادا کړو او هم پۀ هغۀ ورځ اُمُّ الْمُؤْمِنِين حضرت خديجةُ الکبرىٰ رضي الله عنها هم د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه نمونځ زده کړو او ادا کول يې

---

[1] ...مسند احمد، مسند بنی ھاشم، مسند عبد اللہ بن العباس...الخ، جلد:2 صفحہ:241، حدیث:2720۔
[2] ...المعجم الاوسط للطبرانی، باب المیم، من اسمہ محمد، جلد:4، صفحہ:315، حدیث:6098۔

شروع کړل. (1)

حضرت ابو رافع رضی اللہ عنہ فرمائي: رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صلی اللہ علیہ والہ وسلم د ګُل پهٔ ورځ سحر نمونځ وکړو، حضرت خدیجه رضی اللہ عنہا د ګُل پهٔ ورځ د ورځې پهٔ آخرۍ حصه کښې نمونځ وکړو. (2)

سُبحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د مسلمانانو د خوږې مور جانې حضرت خدیجۃُ الکبریٰ رضی اللہ عنہا څومره ښکلے شان دے...!! هغې ته دا شرف حاصل دے چې هغې پهٔ دُنیا کښې د اِسلام ظاهریدو پهٔ وړومبۍ ورځ نمونځ زده هم کړو او ادا یې هم کړو...!! سُبحٰنَ الله!

الله پاک دې زمونږه هم د نمونځ محبت نصیب کړي. کاش چې مونږه هم نمونځ زده کړو، د نمونځ احکام، د هغې فرائض، شرائط، واجبات، سنَّت او ظاهري، باطني اداب زده کړو او کاش چې پهٔ پابندۍ سره پینځه وخته نمونځونه د جَمعې سره پهٔ جومات کښې د ظاهري او باطني ادابو خیال ساتلو سره ادا کوونکي جوړ شو.

| | |
|---|---|
| ہر عبادت سے بَرتَر عبادت نَماز | ساری دولت سے بڑھ کر ہے دولت نَماز |
| قلبِ غمگیں کا سامانِ فَرحت نَماز | ہے مریضوں کو پیغامِ صِحَّت نَماز |
| نارِ دوزخ سے بے شک بچائے گی یہ | ربّ سے دِلوائے گی تم کو جنّت نَماز |
| پیارے آقا کی آنکھوں کی ٹھنڈک ہے یہ | قلبِ شاہِ مدینہ کی راحت نَماز |
| بھائیو! گر خُدا کی رِضا چاہئے | آپ پڑھتے رہیں باجماعت نَماز |

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

1... فتاویٰ رضویہ، جلد:5، صفحہ:83 خلاصۃً۔
2... معجم الکبیر، باب من اسمہ ابراھیم، عبید اللہ بن ابی رافع عن ابیہ، جلد:1، صفحہ:251، حدیث:945۔

## د حضرت خديجةُ الكبرىٰ رضی اللہ عنہا دوه اعلىٰ صفتونه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د حضرت خديجةُ الكبرىٰ رضی اللہ عنہا په پاک سيرت کښې زمونږ د پاره د زدکړې د پاره ډيرې خبرې دي. خصوصاً د هغې دوه ډير اعلىٰ صفتونه چې د هغې په سيرت کښې ډير ښکاره دي او نن مونږ ته د دې دواړو صفتونو اختيارولو ډير ضرورت دے.

## (1): عشقِ رسول

په دې کښې وړومبے صفت دے: د حضرت خديجةُ الكبرىٰ رضی اللہ عنہا عشقِ رَسول. هغوئي رضی اللہ عنہا به د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلی اللہ علیہ والہ وسلم سره د آخري نبي په طور بے کچه محبت کولو. هغې په خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلی اللہ علیہ والہ وسلم باندې خپل مال هم قربان کړو، خپل ژوند يـې هم د هغوئي صلی اللہ علیہ والہ وسلم د پاره وقف کړو او قدم په قدم به يـې د هغوئي صلی اللہ علیہ والہ وسلم خدمت هم کولو.

## د اِسلام په اِبتِداء کښې د حضرت خديجه رضی اللہ عنہا کردار

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلی اللہ علیہ والہ وسلم عمر مبارک څلويښت کاله وو، د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په مياشت کښې په هغوئي صلی اللہ علیہ والہ وسلم باندې وړومبۍ وحي نازل شوه. [1] په دې موقع باندې حضرت خديجةُ الكبرىٰ رضی اللہ عنہا بے مثاله کردار ادا کړو، د رسولِ نامدار، شفيع روزِ شمار صلی اللہ علیہ والہ وسلم په نکاح کښې د راتللو نه واخله تر آخري وخته پورې شپه ورځ يـې قدم په قدم د هغوئي صلی اللہ علیہ والہ وسلم مرسته وکړه. په غارِ حِرا کښې د وړومبۍ وحي نازليدو نه پس چې کله هغوئي صلی اللہ علیہ والہ وسلم د حضرت خديجه رضی اللہ عنہا خوا له په دې حال کښې تشريف راوړلو چې د هغوئي صلی اللہ

---

1... مواہبُ اللدُنیہ، مقصد الاول، د قائق حقائق بعثتہ، جلد:1، صفحہ:103، ملتقطاً۔

عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قلبِ اقدس رېيدلو نو حضرت خديجه رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته پوره پوره ډاډګیرنه ورکړه او عرض يــې وکړو چې **پهٔ الله پاک مې دې قسم وي! الله پاک به کله هم تاسو نه رُسوا کوي ځکه چې تاسو صِله رحمي کوئ، د کمزورو بوج اوچتوئ، د محتاجانو د پاره ګټئ، میلمستیا کوئ او پهٔ حق لاره کښې مشکلات برداشت کوئ.**

چې کله سرکارِ عالي وقار، محبوبِ رَبِّ غفّار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **الله** پاک پهٔ حکم سره د نبوت اِعلان ووفرمائیلو، خلق يــې صرف د یو رښتوني خدائے اللّٰهُ رَبُّ الۡعٰلَمِيۡن د عبادت پهٔ لور راوبلل نو پهٔ ځائے د دې چې خلقو د هغوئي دعوت قبول کړے وے، د هغوئي پهٔ اواز باندې يــې لبیک وئیلے وے، د مکے والؤ اُلټا هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له تکلیفونه ورکول شروع کړل، د هغوئي پهٔ لارو کښې به يــې ازغي خپرول، آه! د هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ مبارک بدن باندې به يــې کاڼي ورول.

پهٔ داسې نازک، خوفناک او سخت وخت کښې چې کومو هستو د حق پهٔ اواز باندې لبیک ووئیلو او د ټولو نه وړومبے يــې د هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حق د دعوت قبلولو سعادت حاصل کړو، پهٔ هغوئي کښې یو ښکاره نوم ❁ د مجسمهٔ حُسنِ اَخلاق ❁پاک سیرت او اوچت کردار ❁ د جُود او سخا پیکر ❁ د صِدق او وفا مثال حضرت خدیجۃُ الکبریٰ رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا دے. ❁ دا حضرت خدیجۃُ الکبریٰ رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا وه چې د پتنګانو پهٔ شان پهٔ هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې قربانیدله ❁ هم حضرت خدیجۃُ الکبریٰ رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا وه چې پهٔ زنانؤ کښې يــې د ټولو نه وړومبے پهٔ حُضُور اقدس صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې ایمان راوړلو او د هر سخت نه پهٔ سخت وخت کښې يــې د هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ملګرتیا وکړه ❁ حضرت علامه محمد بن اسحاق مَدَني رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَيۡه فرمائي: سیّدِ عالَم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې به کله د کافرانو له طرفه څهٔ ناخوښه خبره واوریدله او غمژن به شو نو د حضرت خدیجۃُ الکبریٰ رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا خوا له به يــې تشریف راوړلو نو د

هغې په ذریعه به **اللہ** پاک، د هغوئي صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د غم او خفګان حالت لرې کړو. [1]

| | |
|---|---|
| وہ اَنیسِ غمِ مُونِسِ بے کساں | وہ سُکونِ دلِ مالکِ اِنس وجاں |
| وہ شریکِ حَیاتِ شہِ لامکاں | سیِّما پہلی ماں کہفِ اَمن واماں |

حق گزارِ رفاقت پہ لاکھوں سلام [2]

وضاحت: د بے وَسو د آقا، د دواړو جهانونو د مولا صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د غم ملګرې، د هغوئي د سکون سبب، کور وداني، د ایمان والؤ وړومبۍ مور، د ایمان والؤ بهترین د پناه ځائے او د مصطفٰے جانِ رحمت، شمعِ بزمِ هدایت صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره د اوسیدو حق ادا کوونکي شخصیت حضرت خدیجۃُ الکبریٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہَا باندې دې په لکونو سلامونه وي.

## صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (2): بغیر د لیدلو ایمان راوړل

د حضرت خدیجۃُ الکبریٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہَا دویم د ټولو نه اعلیٰ صفت دے: د غیب په خبرو باندې کامِل یقین ساتل. د هغې رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہَا د ایمان د پوخ والي او مضبوط والي اندازه د دې خبرې نه ولګوئ چې کله د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شهزاده حضرت قاسِم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ وفات شو، حضرت خدیجه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہَا عرض وکړو: یا رَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! کاش چې **الله** پاک قاسِم د رضاعت (یعني د پئیو ځنبلو عمر پورې) ژوندے ساتلے وے. رسول الله صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ووفرمائیل: د هغهٔ رضاعت به په جنّت کښې پوره کیږي. هغې رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہَا عرض وکړو: یا رَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! که ما ته دا خبره معلومه وے نو په ما باندې به دا کار اسان شوے وے. د مدینے سرکار، د

---

1 ...السیرۃ النبویۃ لابن اسحاق، تحدید لیلۃ القدر، جلد:1، صفحہ:176۔

2 ...بہارِ عقیدت، صفحہ:11۔

زړونو قرار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ووفرمائيل: که تهٔ غواړې نو زهٔ به د **الله** پاک نه سوال وکړم او تهٔ به د هغهٔ اواز واورې؟ پهٔ دې باندې هغې رَضِىَ اللهُ عَنْهُ عرض وکړو: نهٔ **بلکې زهٔ د الله پاک او د هغهٔ د رسول** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **تصديق کووم.** (1)

سُبْحٰنَ الله! پهٔ يوه پټه خبره باندې داسې پوخ ايمان چې د کتو او اوريدو حاجت يې هم اونه ګڼو او بغير د کتو او اوريدو يې د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تصديق وکړو. دا د هٔغه دور خبره ده چې کله د سيّدِ عالَم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تصديق کوونکي ډير کم وو خو قربان شم د **اُمُّ الْمُؤمِنِين** حضرت خديجةُ الكبرىٰ رَضِىَ اللهُ عَنْهَا نه چې پهٔ هٔغه ورځو کښې يې هم دومره کامِل تصديق وکړو او دومره کامِل ايمان يې اوموندلو، يقيناً هغه رَضِىَ اللهُ عَنْهَا د مسلمانانو د فخر قابله مور جانه ده.

## بغير د ليدو منلو فضيلتونه

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! مونږ له هم پکار دي چې د **الله** او رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان بغير د ليدلو د منلو عادت جوړ کړو، ځوک چې بغير د ليدلو نه مني، هغه هدايت بياموي، کاميابي د هغهٔ قدمونه ښکلوي. وګورئ! د مسلمانانو وړومبي خليفه حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِىَ اللهُ عَنْهُ چې بغير د ليدلو نه وومنل نو څومره اوچتې مرتبې ته ورسيدو...!! د مِعراج تصديق هغوئي څومره پهٔ ځانګړي انداز کښې وکړو، يو غير مسلمه هغوئي تهٔ ووئيل: اے ابوبکر! ستا دوست **مُحَمَّد** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: زهٔ د شپې مسجدِ اَقصیٰ ته لاړم او د سحر نه مخکښې [واپس] مکے ته راورسيدم. حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ ووفرمائيل: که دا خبره زما **محبوب** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلې وي

---

1... سنن ابن ماجه، كتاب الجنائز، باب ماجاء في الصلاة...الخ، صفحه:243، حديث:1512

نو بالكل يـې رښتيا وئيلي دي. (1)

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! داسې ايمان پکار دے...!! د **اللّٰه** پاک او د خوږ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان په پټو سترګو منل پکار دي نو هله هدايت ميلاويږي، بيا کاميابي نصيب کيږي. د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: په **اللّٰه** او رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې اعتماد د ايمان حقيقت دے، د څيز ليدلو يا اوريدلو سره خو يـې هر ګس مني خو هغه څيز کوم چې د دۀ نه پټ وي او په عقل کښې يـې نه وي، هغه صرف په دې وجه منل چې هغه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي، دا د دې خبرې دليل دے چې د دۀ په زړۀ کښې اطاعت دے. نور فرمائي: رښتيا خبره خو دا ده چې د ايمان ځان خو دا دے چې د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خبر باندې د خپلو حَوَّاسو (سترګو، غوږونو او عقل وغيره) نه زيات اعتماد لري، که مونږ په سترګو وينو چې دا وخت ورځ ده او نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ووفرمائي چې دا وخت شپۀ ده نو زمونږه سترګې دروغژنې دي او نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رښتونے دے ځکه چې زمونږه سترګې په زرګونو کرته غلطي کولے شي خو د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان چرې هم غلط نه وي. (2) چا شاعر څۀ ښکلي وئيلي دي:

| | |
|---|---|
| اگر شاه رَوْزِ رَا گُوْيَد شَبْ اَسْت اِيْں | بِبَايَد گُفْتْ اِيْں کَهْ مَاه و پَرِوِيْں |

**د شعر مفهوم:** که بادشاه د ورځې ووائي چې دا شپه ده نو وئيل پکار دي: آؤ جي! دا وګورئ! ستوري سپوږمۍ ښکاري.

**اللّٰه** پاک دې زمونږه د سَيِّده خديجه رَضِىَ اللهُ عَنْهَا فيضان نصيب کړي، مونږ له پکار دي چې د هغوئي رَضِىَ اللهُ عَنْهَا پاک سيرت ښکپله هم ولولو او خپل کور والؤ خاص طور د

1... مستدرک، کتاب معرفة الصحابة، جلد:4، صفحه:5، حديث:4463۔

2... تفسير نعيمي، پاره:1، سورۂ بقره، زير آيت:3، جلد:1 صفحه:128-129 ملتقطاً۔

کور زنانؤ ته د هغې د سيرت لوستلو ترغيب ورکړو. اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي علمي او تحقيقي شعبې المدينة العلميه (***Islamic Research Center***) د حضرت خديجةُ الكبرىٰ رضی اللہ عنہا پۀ سيرت باندې ډېر ښکلے او اسان کتاب ليکلے دے ، د هغه کتاب نوم دے: **فيضان خديجةُ الكبرىٰ** رضی اللہ عنہا. د **مکتبةُ المدينه** نه دا کتاب هديةً طلب کړئ! پخپله يـې هم ولولئ او خپل کور والؤ، خپلوانو او دوستانو وغيره له هم د لوستلو ترغيب ورکړئ.

**الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق رانصيب کړي. کاش چې د **اُمُّ الْمُؤمِنِين** خديجةُ الكبرىٰ رضی اللہ عنہا پۀ وسيله زمونږه هم د عشقِ رسول بے کچه دولت نصيب شي، د دِين د خدمت کولو، د دين د پاره د خپل ځان مال قربانولو توفيق رانصيب شي او کاش! کاش چې زمونږه پوخ ايمان نصيب شي، کاش چې مونږه کامِل ايمان والا رښتوني پوخ، باکرداره مسلمان جوړيدو کښې کامياب شو.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم .

## د امام حسن مجتبىٰ رضی اللہ عنہ تعارف

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د برکت نه ډکه مياشت روانه ده، د دې مبارکې مياشت پۀ پينځلسم تاريخ د سيّده خديجةُ الكبرىٰ رضی اللہ عنہا د خوږ نمسي حضرت امام حسن مجتبىٰ رضی اللہ عنہ د ولادت ورځ هم ده. راځئ چې پۀ دې مناسبت سره د هغوئي ذِکرِ خير هم واورو. حضرت امام حسن مجتبىٰ رضی اللہ عنہ پۀ دريمه هجرى پينځلسم رَمَضَانُ الْمُبَارَك پۀ مدينه منوره کښې دنيا ته تشريف راوړلو. [(1)] خوږ آقا و مولا،

[1]... تاریخ طبری، جلد:2، صفحہ:76۔

مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي نوم حسن کيښودو. (1) هغوئي رَضِیَ اللہ عَنْہُ دومره ښائسته وو چې حضرت عبد الله بن زبير رَضِیَ اللہ عَنْہُما به وئيل: پهٔ **الله** پاک مې دې قَسم وي! يوې زنانه هم د حضرت حسن رَضِیَ اللہ عَنْہُما پهٔ شان (ښکلے) ماشوم نه دے زيږولے. (2) د **الله** پاک آخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د هغوئي سره ډير **محبت** فرمائيلو، هغوئي به يې پهٔ خپلو مبارکو اوګو کښينولو، **پهٔ روايت کښې دي**: يو ځل خوږ آقا صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغوئي پهٔ خپلو مبارکو اوګو کښينولي وو نو يو صاحب عرض وکړو: **نِعْمَ الْمَرْکَبُ رَکِبْتَ یَاغُلَام** برخورداره! ستا سورلۍ خو ډيره ښکلې ده. خوږ آقا صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ووفرمائيل: **وَنِعْمَ الرَّاکِبُ هُوَ** او سورلۍ خو هم ښومره ښه ده. (3)

د هغوئي رَضِیَ اللہ عَنْہُ ډير فضيلتونه دي ❁ امامِ حسن او امامِ حُسين رَضِیَ اللہ عَنْہُما د جنّتي ځلمو سرداران دي (4) ❁ خوږ آقا صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي پهٔ باره کښې ووفرمائيل چې دا پهٔ دُنيا کښې زما ګل دے. (5) ❁ پهٔ يو ځائے کښې يې ووفرمائيل: اے **الله**! زهٔ د دهٔ سره **محبت** کووم تهٔ هم د دهٔ سره **محبت** ووفرمائې (6) ❁ اعلیٰ حضرت، امام احمد رضا خان رَحْمَۃُ اللہ عَلَیْہ نقل کوي: وړومبے غوثِ اعظم پخپله حضور امامِ حسن رَضِیَ اللہ عَنْہُ وو او پهٔ مينځ کښې صرف شيخ عبدُ القادر رَحْمَۃُ اللہ عَلَیْہ او پهٔ آخره کښې به حضرت امام مهدي رَحْمَۃُ اللہ عَلَیْہ وي. (7)

---

1... سوانح کربلا، 92۔
2... سُبل الہُدیٰ، بعض فضائل آل رسول اللہ... الخ، الباب الحادی عشر... الخ، جلد: 11، صفحہ: 69۔
3... ترمذی، ابواب المناقب... الخ، صفحہ: 858، حدیث: 3790۔
4... ترمذی، ابواب المناقب... الخ، باب مناقب ابی محمد الحسن... الخ، صفحہ: 855، حدیث: 3775۔
5... مسند بزار، جلد: 9، صفحہ: 111، حدیث: 3657۔
6... ترمذی، ابواب المناقب... الخ، صفحہ: 858، حدیث: 3791۔
7... فتاویٰ رضویہ، جلد: 28، صفحہ: 392۔

# سمدستي يـې ضرورت پوره کړو

خوېندو او محترمو اسلامي ورونړو! امام حسن مجتبىٰ رضی اللہ عنہ د ډېرو خوبيانو مالِک دے، د هغوئي د پاک سيرت نه مونږ ته د زدکړې د پاره ډېر سبقونه ميلاوېږي، د هغوئي يو ډېر ښکلے صفت سخاوت دے. هغوئي به د غريبانانو، بے وَسو، مسکينانو سره ډېر محبت کولو، د هغوئي پـکار به راتللو، د هغوئي ضرورتونه به يـې پوره کول، د هغوئي د دَر نه به يو سوالګر هم خالي لاسونه نه تللو، پۀ احياء العلوم کښې دي: يو ځل د حضرت امام حسن مجتبىٰ رضی اللہ عنہ پۀ خدمت کښې يو سوالګر حاضر شو او هغۀ ليکلے خواست وړاندې کړو. هغوئي رضی اللہ عنہ بغير د لوستلو نه ووفرمائيل: ستا ضرورت به پوره کړے شي. عرض وکړے شو: اے د رسول الله صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم نمسيه رضی اللہ عنہ! تاسو به د هغۀ درخواست لوستلے وے نو بيا به مو جواب ورکړے وے. ارشاد يـې ووفرمائيلو: تر څو پورې چې ما د هغۀ درخواست لوستلے هغه به زما پۀ وړاندې د ذِلَّت پۀ حالت کښې ولاړ وے بيا که الله پاک زما نه پوښتنه کړې وے چې تا سوالګر دومره وخت ولې اودرولو او ولې دې ذليله کړو؟ نو ما به څۀ جواب ورکولے؟ (1)

وہ حسن مجتبیٰ،سیّد الاسخیا | راکبِ دوشِ عزت پہ لاکھوں سلام (2)

مفهوم: امام حسن مجتبىٰ رضی اللہ عنہ چې د سخيانو سردار دے، چا چې به د خوږ آقا صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم پۀ مبارکو اوګو سورلي کوله د هغوئي پۀ ذات مبارک باندې دې پۀ لکونو سلامونه وي.

سُبْحٰنَ الله! خوېندو او محترمو اسلامي ورونړو! څومره ښکلے شان دے د امام حسن مجتبىٰ

---

1 ... احیاء علوم الدین، کتاب ذم البخل... الخ، بیان فضیلۃ السخاء، جلد:3، صفحہ:304۔
2 ... حدائقِ بخشش، صفحہ:309۔

رضی اللہ عنہ ...!! د دې حکايت نه مونږ ته دا خبرې د زدکړې د پاره ميلاو شوې چې (1): که څوک زمونږ خوا له د مدد غوښتو د پاره راشي نو د ممکن حده پورې د هغهٔ مدد کول پکار دي، پهٔ حديثِ پاک کښې دي: څوک چې د کوم مسلمان د دنيا يو تکليف لرې کړي الله پاک به د هغهٔ د قيامت يو تکليف لرې کړي.[1] (2): د راغلي کَس د عزت نفس خيال ساتئ او هغه د ځان پهٔ مخکښې مهٔ شرمنده کوئ، زمونږ خو دا ذهن پکار دے چې دا سوالګر زما محسن دے چې الله پاک د دهٔ پهٔ ذريعه ما له د نيکۍ موقع راکړې ده، د خپل محسن عزت کولے شي نه چې هغهٔ ذليله کولے شي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## پهٔ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: علاقائي دوره

❁ د حديثِ پاک خلاصه ده: کومې ښپې چې د الله پاک پهٔ لاره کښې په خاورو خړې شي، هغو ته به د دوزخ وور نه ورنزدې کيږي.[2] ❁ د نيکۍ د دعوت ورکولو، د ګناه نه د منع کولو د پاره د کور نه وَتل هم د الله پاک پهٔ لاره کښې وَتل دي ❁ زمونږه خوږ آقا او مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د نيکۍ دعوت ورکولو د پاره بازارونو ته تشريف وړلو ❁ مختلفو قبائلو ته به هم تللو او د نيکۍ دعوت به يې ورکولو. د دعوتِ اسلامي والا عاشقانِ رسول هم د دې ښکلې ادا د ادا کولو کوشش کوي ❁ کور کور، دُکان دُکان ته ځي او د نيکۍ دعوت ورکوي ❁ خلقو ته جومات ته د راتللو دعوت ورکوي ❁ د نمونځونو ترغيب ورکوي ❁ مونږ دې ته علاقائي دوره وايو ❁ **تاسو هم د عاشقانِ رسول سره پهٔ شريکه علاقائي دوره کوئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم!** د انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام

---

1 ... مسلم، کتاب الذکر... الخ، باب فضل الاجتماع... الخ، صفحہ:1039، حدیث:2699۔

2 ... مسند امام احمد، جلد:6، صفحہ:507، حدیث:16356۔

پۀ سُنتو باندې به د عمل کولو سعادت درنصيب كيږي ❀ د نيکۍ د دعوت عام کولو ثواب به مو نصيب کيږي ❀ د **حدیثِ پاک** مطابق د نيکۍ لاره ښودلو والا، د نيکۍ کولو والا پۀ شان دے [(1)] ❀ كه زمونږ د نيکۍ پۀ دعوت يو كَس هم نيک نمونځ گزاره جوړ شو نو يقين وکړئ! مزې به مو شي.

## غير مسلمه مسلمان شو

د پاکستان د پنجاب صوبې د دعوتِ اسلامي د يو مبلغ بيان دے، يوه ورځ زمونږ ځائے ته د کراچۍ نه مَدَني قافلې تشريف راوړے وو، د مَدَني قافلې والؤ سره پۀ شريکه ما ته هم پۀ علاقائي دوره کښې د شرکت کولو شرف حاصل شو، مونږه د يو درزي د دُکان نه بهر خلق راجمع کړي وو او د نيکۍ دعوت مو ورکولو، کله چې بيان ختم شو نو د هغه دُکان يو ملازم ځلمي ووئيل: زه **غير مسلمه** يم. ستاسو د نيکۍ دعوت زما پۀ زړۀ باندې ډير اثر کړے دے، **مهرباني وکړئ ما هم پۀ اسلام کښې داخل کړئ**. بيا اَلْحَمْدُلِلّٰه! **هغۀ کلمه ووئيله او مسلمان شو.**

مقبول جہاں بھر میں ہو دعوتِ اسلامی | صدقہ تجھے اے رَبِّ غفّار! مدینے کا

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د نمونځونو د وختونو (Prayer Times) د ايپ تعارف

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د دعوتِ اسلامي آئي ټي ډيپارټمنټ يو ډير ښکلے موبائل ايپلي کيشن د نمونځونو د وختونو ***(Prayer Times)*** پۀ نوم جاري کړے دے ❀ د دې ايپلي کيشن پۀ ذريعه پۀ ټوله دنيا کښې د هر ځائے وختونه او د قبلې اړخ

---

[1] ...ترمذی، ابواب العلم، باب ماجاء الدّال...الخ، صفحہ:628، حدیث:2670۔

معلومیدے شي ❁ د دې نه علاوه د پينځه وارو نمـونځونو وختونه مياشتنے ټائم ټيبل ❁ ذِکرونه (روحاني علاج) ❁ مَدَني چينل ريډيو ❁ د نمـونځونو په وختونو کښې د موبائل سائلنټ (*Silent*) کولو سهولت او اسلامي کليندړ موجود دے. ❁د دې نه علاوه تاسو د دې ايپلي کيشن ډيش بورډ په 2 کلر تهيم کښې هم استعمالولے شئ. په خپل موبائل کښې دا ايپلي کيشن انسټال کړئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ.

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان په اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د ځينو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبت وکړو هغهٔ زما سره محبت وکړو او چا چې زما سره محبت وکړو هغهٔ به په جنّت کښې زما سره وي. [(1)]

ہر کام شریعت کے مطابق میں کروں کاش! | یارب! تو مبلغ مجھے سُنّت کا بنا دے [(2)]

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د وعدې پابندي سُنَّت دے

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 2 فرامين مبارک دي: **(1)**: خوک چې وعده نه پوره کوي، د هغهٔ هيڅ ايمان نشته. [(3)] **(2)**: کوم مسلمان چې خپل ورور [يعني بل مسلمان] سره وعده خلافي وکړي په هغهٔ باندې د الله پاک او د فرښتو او د ټولو انسانانو لعنت دے. [(4)]

[1]... تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343۔
[2]...وسائل بخشش، صفحہ:115۔
[3]... مصنف اِبنِ اَبِی شیبہ، کتاب: الایمان، جلد:7 صفحہ:223۔
[4]... بخاری، کتاب: جزیہ، صفحہ:815، حدیث:3179۔

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! وعده پوره کول سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بلکې سُنَّتِ انبیآء دي ❁ زمونږه آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به پهٔ خپله وعده کلک ولاړ وو او ❁ وعده ماتول به يې نه خوښول ❁ د نبوت د اعلان نه مخکښې يو ځل يو ګس هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته عرض وکړو چې: تاسو ودريږئ! زه دا دے اوس راځم، هغهٔ ګس لاړو خو واپس راتلل ترينه هير شول، 3 ورځې پس هغهٔ ته بيا ورياد شول، چې کله هغه هٰغه ځائے ته راورسيدو نو حيران پاتې شو چې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د 3 ورځو تيريدو باوجود هم پهٔ هغه ځائے کښې تشريف فرما وو او مَاشَآءَ الله! شفقت او رَحمت او ښهٔ اخلاقو ته يې وګورئ! چې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه ګس اونه رټلو، نه ورته غصه شولو، بس دومره يې ووفرمائيل: اے سړيه! تا زه پهٔ مشقت کښې واچولم. [1] الله پاک دې مونږ هم پهٔ سُنّتِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې عمل کوونکي او وعده پوره کوونکي جوړ کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبةُ المدينه د بهارِ شريعت جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله 550 سنتيں اور آداب واخلئ او اويې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

سنتيں سيکھنے تين دِن کے لئے | ہر مہينے چليں، قافلے ميں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

---

[1] ...اَبُو داوٗد، کتاب ادب، باب في العدة، صفحہ: 781، حديث: 4996۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاهِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمعے او زیارت مینځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شریف پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دے چې تاجدارِمدینه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښیناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودریدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

---

1 . . . افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا

### ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

### ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِىْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو.

### ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا خوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

---

1...القول البديع، الباب الثانى، ص٢٧٧

2...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

3...القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيكۍ:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رضی اللہ عنہما نه رِوايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونكي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيكۍ ليكي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لكه شبِ قدر ئې چې حاصل كړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لكه هغه چې شَبِ قَدر حاصل كړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريكه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

1... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ۲/۳۲۹، حديث: ۳۰

2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب في كيفية الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث: ۱۷۳۰۵

3... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حديث: ۴۴۱۵